# خالۍ له بوټو سره خبرې کوي.

# Khalai talks to plants

Ursula Nafula

Jesse Pietersen

Darakhte Danesh

2

پښتو ps / English en

دا خالۍ ده. اووه کالنه دی. د هغې ژبه چې خبرې پرې کوي
لوبوکوڅو نومیږي او غوره مانا ورکوي.

...

This is Khalai. She is seven years old. Her name means ‘the good one’ in her language, Lubukusu.

کله چې له خوبه جګېږی د مالټې له ونې سره خبرې کوي او ورته وايي چې هیله کوم ژر پخه شه او موږ ته مالټې راکړه.

. . .

Khalai wakes up and talks to the orange tree. “Please orange tree, grow big and give us lots of ripe oranges.”

کله چې خالۍ د ښوونځي پر لاره روانه وي، له واښو سره هم خبرې کوي او غوښتنه یې دا وي چې ژر وچ نه شي او همداسې زرغون پاتې شي.

. . .

Khalai walks to school. On the way she talks to the grass. “Please grass, grow greener and don’t dry up.”

. کله چې خالۍ د ځنګل تر څنګ روانه وي، له دوی هم
همدا هیله کوي چې د ځنګل ګلانو همداسې زرغون اوسئ
چې زه مو په اوربل کې کښیږدم.

. . .

Khalai passes wild flowers. “Please flowers, keep blooming so I can put you in my hair.”

. نوموړې د ښوونځي د غټې ونې لاندې ناسته وي او ورته
وايي چې ونې اوږد ښاخونه ولره چې موږ مو تر سيوري
لاندې کښينو.

. . .

At school, Khalai talks to the tree in the middle of the compound. “Please tree, put out big branches so we can read under your shade.”

خالۍ د ښوونځي دیوال ته وايي هيله کوم غښتلی اوسه،
نا اهله او کوڅه ډب هلکان د ننه ښوونځي ته مه را پرېږده.

. . .

Khalai talks to the hedge around her school. “Please grow strong and stop bad people from coming in.”

کله چې خالۍ له ښوونځي څخه د کور په لور روانېږي، د مالټې ونې ته ګوري او ورته وايي چې مالټو پخې شوې نه يې.

. . .

When Khalai returns home from school, she visits the orange tree. “Are your oranges ripe yet?” asks Khalai.

خالۍ سوړ اسویلی وکړي او له ځان سره ووایي، لا هم
پخې شوي نه دي او د صبر په بڼه وایي، خیر کیدای شي
تر سبا پورې پخې شي.

...

"The oranges are still green," sighs Khalai. "I will see you tomorrow orange tree," says Khalai. "Perhaps then you will have a ripe orange for me!"

# Global Storybooks

globalstorybooks.net

## خالی له بوټو سره خبرې کوي.

## Khalai talks to plants


Ursula Nafula
Jesse Pietersen
Darakhte Danesh (ps)


CC BY